مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۵/۳۱

# انسان

## قصه په سلوټکو کې

د بیولوژي په ساعت کې استاد د لومړنیو انسانانو، استرالوپیتیکوس، په اړه خبرې کولې. هغه وویل:

«هغوی وحشي ول، د خوړو، مځکې او بقا لپاره ئې یو بل په ډېرو وژل. ځناور ول.»

زنګ ووهل سو.

د تفریح پر مهال، لکه نور شاګردان، ما هم فېسبوک خلاص کړ. و مې لیدل:

بمبار ښارونه،

پر ماشومانو تجاوز،

وژنې د پیسو لپاره،

او د جګړو شوقیان.

زه د تکامل، پیدایښت او د انسان د اصل په اړه په فکر کې غرق سوم.

احساس مې کړه:

ښایي د انسان بدن تکامل کړی وي، خو روح ئې لا هم په غارونو کې ژوند کوي.

محمدسمیع صادق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ